افسانه

# دوېم سړے

سحر ګل نادان

زرغونه او پایو خان دواړه په هغه ښار کښې پېدا شوي او لوئے شوي وو کوم ښار چې د پښتنو د وطن د زړۀ حېثیت لري. اګر چې په ښاریو کښې د چم ګاونډ تصور هغه نۀ وي، کوم چې په کلیوال ژوند کښې وي خو د ماشومانو په فطرت کښې د کلي او ښار فاصله هیڅ معنٰي نۀ لري. د هغوي ماشومانې جذبې لوبې غواړي او په دغه لوبو کښې هغوي د ژوند ژواک چل زده کوي. د زرغونې او پایو خان کورونه د یو بل نه په لږه فاصله وو خو د هغوي دکورونو په منځ کښې یو وړوکے ډاګ شان ؤ. هغې ته به اکثر د لرې نزدې ماشومان راټولېدل، لوبې به ئې کولې او د ډاګ یو طرفته په لږ لوړ ځائے یو زیارت ؤ، په هغې به رنګارنګ نشانګي رپېدل او د لرې لرې نه به زنانه راتلې، په دغه زیارت کښې به ئې مرادونه غوښتل. د زنانوؤ زیارت له راتلل او په ډاګ کښې د ماشومانو لوبو په دغه کنډر کنډر منظر کښې هم یو داسې خوند پېدا کړے ؤ چې دلته به خیالونه زېږېدل. دلته به ژوند په هر نظر لکه سپرلے خورېدو او غوړېدو. په دغه منظر کښې د زیارت د کراماتو تقدس یو رنګ لرۀ او د ماشومانو د لوبو تقدس بل رنګ، دلته به جینکو د جینکو لوبې کولې او هلکانو د هلکانو لوبې، زرغونه او پایو خان کۀ هر څو په پوره ډول د یو فطري معصومیت نه ډک ماشومان وو خو د خوښې او ناخوښې معیارونه لکه چې په فطري ډول د هر چا سره پېدا کیږي، د پایو خان زړۀ به د زرغونې سره لوبې غوښتې او د زرغونې زړۀ ته یو بل هلک پېمان نزدې ؤ خو د هلکانو او جینکو د لوبو ترمېنځه یو عجیبه دېوال هم ؤ. هلکانو کۀ به د جینکو سره لوبې کولې نو هلکانو به ورپورې خندل "الا د جینکو سره لوبې کئي" او کۀ جینکو به د هلکانو سره لوبې شروع کړې نو جینکو به پرې الا چغه وېسته. د یو فطري کشش باوجود د یو قدم په فاصله د دوي ترمېنځه دغه نۀ لېدونکے دېوال هغوي هم نۀ لیدو خو فاصله به ئې داسې ساتله، لکه چې چا ورته کړښې وېستلې وي، دا د ټولنیز ژوند د روایت د مدرسې د سبق یو باب ؤ چې هم دغو ماشومانو په خپل فطرت کښې د ځان سره راوړے ؤ.

د دغو دواړو ماشومانو په وړو زړونو کښې خپل خپل خواهش د ارمان شکل اختسو چې څومره څومره دغه ماشومان لوئېدل، دومره دومره ورسره دغه ارمانونه هم لوئېدل او چې څو هغوي په ځان پوهېدل نو د ماشومتوب زمانه د هغوي د لاسه وتې وه، په ځلمیتوب کښې پایو خان مور ته د چا په خُلۀ د خپل زړۀ خبره ور ورسوله خو د هغې خیال په یو بل ځائے کښې بانډه ؤ، په حسن زرغونه ښکلې وه خو هغه د پایو خان د پلار په مقابله کښې د یو غریب پلار لُور وه، د هغې پلار چمیار ؤ او د پایو خان پلار تاجر، په ډېر لږ او وړوکي فرق هم د پایو خان د مور پلار نظر د خپلې طبقې نه هم په لویو کورنیو

ځکه ؤ چې هغه د زوي مور او پلار وو او دې خيالي شان و شوکت به لمسول چې "ځوانان زر منه زر دي او د بختورو په در دي" خو هغوي ته معلومه هم نۀ شوه چې زرغونه کۀ د پايوخان نه د ماشوم والي نه نفرت هم نۀ کوي نو د مينې په نظر هم ورته نۀ ګوري او وادۀ ورسره کول خو ورته د ژوند بائلات ښکاري. د پايو خان مور او پلار په خپل پلان کښې کامياب شو او زرغونې د خپلې خوښې ملګرے وموندو، وخت تېرېدو او چې کله دغلته د بدلون هواګانې والوتې نو د اقتدار د رسۍ راښکلو په نتيجه کښې روسيان راغلۀ او بل طرفته د جهاد ډمامه وغړېده، اوس دغه ښار او د هغې هغه ډاګ چې ماشومانو به پکښې لوبې کولې او زنانه به زيارت ته دعا له راتلې هلته به اوس ډزې کېدې، د زيارت جنډې به په ګولو سُورۍ سُورۍ وې او د ماشومانو د لوبو مېدان به د مړدکو نه ډک ؤ، هلته به اوس هم نمر راختو خو په نمر کښې به زيارت له د تلونکو زنانوؤ د دعاګانو د تقدس رڼا نۀ وه او نۀ به پکښې د ماشومانو د لوبو د سحر رڼا وه، هلته به مازيګر هم راغے خو لکه په ونو کښې د مازيګرو مرغو به د ماشومانو هغه چڼ چوڼ نۀ ؤ. ماښام به هم شو خو نۀ به ماشومانو د يو بل د کوټو نه څۀ پټ کړۀ او نۀ به د زيارت په تاخونو کښې چا ډيوه بله کړه، اخر کډې راماتې شوې، د دغې ښار خلق په تورخم راغلۀ، د پښتنو هره لمن او هره پيڅکه کېمپونه کېمپونه شو، يو الغاؤ تلغاؤ جوړ شو. روس او امريکې د اوياؤ کالو سوړ جنګ تودولو له د پښتنو لوئے کور ته راوړے ؤ، روس دغې کور ته کفر راوړے ؤ او امريکې ورته اسلام راوړو، جنګ وشو او جنګ ختم شو، ډمامې او ګډاګانې شوې چې کفر شکست وخوړو او جهاد ګټه وکړه، روس خپل وطن ته لاړو او امريکه خپلې امريکې ته، هغه ښار وران شو، هغه کلي کنډرې شوې او کېمپونه آباد پاتې شو!!

اوس يو بل جهاد شروع شو او په بل جهاد کښې پايو خان د کمانډر حېثيت حاصل کړے ؤ، په يو مهم کښې هغه په دواړو پښو ولګېدو او هر څو کۀ ترې پښې غوڅې هم شوې خو هغه اوس د کرښې نه دواړه طرفو ته د ډېرو شتو خاوند ؤ، اوس به هغه چې د موټر نه کوزېدو نو په خپل فولډنګ چئيرلفټ کښې به ګرځېدو، په حيات اباد کښې هغه د خپلې بنګلې خاوند ؤ، هغۀ اوس دلته ډېره پېژندګلو لرله، ډېر ياران دوستان ئې لرل، دلته هغه په حاجي پايو خان مشهور ؤ. په ماتو پښو هم هغۀ ډېر څۀ کړي وو او ډېر څۀ ئې کول.

يوه ورځ هغه په خپل موټر کښې ناست د پېښور د ليډي ريډنګ هسپتال په خوا تېرېدو، د هسپتال د شمالي دروازې سره ودرېدو، په خيرنو جامو کښې يوه ښځه جام په لاس اندرشهر طرفته روانه وه، پايو خان خپل نوکر ته ووې، بچے زۀ به دلته ولاړ يم، تۀ په دغې زنانه پسې روان شه چې دا چرته روانه ده او څۀ کوي؟ نيمه ګېنټه پس نوکر واپس راغے او حاجي پايو خان ته ئې د هغې ښځې د منزل پته راوړه، په ډېر لږ وخت کښې هغه د يو تنور خوا له راورسېدو، هغه د تنور د خوا نه لږ لرې موټر ودرولے ؤ او په خپله سائيکل کرسۍ کښې ناست د تنور خوا له راغے، د تنور خوا ته ديارلس څوارلس زنانه په لوپټو کښې پټ مخونه ناستې وې، د هغوي د رېمنو لوپټو نه د خپلو پلرونو، خپلو ورونو، خپلو مړونو سادګي او ناداني او خپلو راهنمايانو دهشت او غرور څڅېدو، د هغوي په

لوپټــو کنبــې د نظــر نــه ډکــې ســترګې دوه دوه کچکولونه وو، چې په پرده کنبې به ئې خبرات خبرات نعرې وهلې، دا ښځې د ډوډو "خرېدارانې" وې، د دوي او تنور ترمنځه فاصله د نشت برابره وه خــو د ډوډو د اخســتونکو پــه حېثيــت هــم د دوي لاسونه تنور ته نۀ رسېدل. په تنور کنبې به ډوډۍ پورې کېدې، د تنور نه به ډوډۍ د يو سيخ په سر راوتې په مېدان به دلۍ کېدې، دوي به ډوډو ته کتل، تنور به ئې ليدو ،د ډوډو خريداران به راتلۀ، ډوډۍ به ئې وړې، نوټونه به جمع کېدل، هر څوک به راتلۀ وار به ئې راتلو، راتلۀ به او تلۀ به، خو د دوي وار به نۀ راتلو، دوي به د مازيګر نه وار منلے ؤ، خو د دوي په وار کنبې به د نورو خلقو وار راغے، د هغو خلقو په لاسو کنبې به پېسې وې، د پېسو لاس به بې واره د ډوډو نه ډک شو او د دوي په لاسو کنبې به د دوي قسمت ؤ او په قسمت به تنور والا ډوډۍ نۀ ورکوله په پېسو به ئې ورکوله، دوي ته به د قسمت قيمت معلوم ؤ خو دوي به نۀ مايوسه کېدې او نۀ به نااامېده کېدې، ځکه چې مايوسي او نااميدي کفر ؤ او دوي د مسلمانانو په حېثيت کفر نۀ شو کولے، د ګړۍ نيمې تماشې نه پس حاجي پايو خان غږ وکړو، "دې ټولو بيبيانو ته څلور څلور ډوډۍ ورکړه"، لکه حاجي صاحب هم چې د سترګو دوۀ دوۀ کچکولونو ته د دوۀ دوۀ ډوډو په حساب په دغه شمېر شمېره کنبې کامياب شوے ؤ، حاجي صاحب واپس شو، مانځۀ له لاړو او دغه زنانه څۀ پاڅېدې اوڅۀ لا ناستې وې،لکه چې هرې زنانه د خپل اولاد د شمېر په حساب خپل قسمت يو بل ازمېښت ته سپارلے ؤ.

حاجي پايو خان چې د مانځۀ نه واپس راغے په ناستو ښځو کنبې د هغۀ په خيال زرغونه هم په هغه لوپټه کنبې پټ مخ ناسته وه، هغه چې څو رارسېدو نو يو بل سرې د دغو ښځو لاسو ته دوه دوه ډوډۍ ور ورسولې، سرے په مخه لاړو او ښځې هم يوه يوه پاڅېده او په مخه روانېده.

زرغونې خپلې ډوډۍ په يو نمل ټوکي کنبې راونغښتې او روانه شوه، هغې خالي جام په لاس کنبې ونيو، په هغه هوټل ورتله، په کوم کنبې چې به ورتـه دوه څمڅۍ پخکړے کلـه کلـه هغـې زړۀ سواندي هوټل والا وراچوؤ، حاجي پـايو خـان غږ ورکړو ،هغه رامخکنبې شوه او دۀ ورته په جام کنبې کړنګ شو څۀ ماتې پېسې واچولې، هغه په مخه لاړه او حاجي پايو خان واپس سائيکل د موټر طرفته راوګرځوو او لاړو.

حاجي پايو خان چې يوه هفته مسلسل دغسې عمل وکړو، نو زرغونې د دې تنور نه په بل طرف مخه وکړه، په اصل کنبې په ښار کنبې چې چرته چرتــه هــم د ډوډو تنــور ؤ هلتــه بــه لــس، دولــس، څوارلس، شپاړس دغسې د ډوډو "خريدارانې" زنانه ناستې وې، دا به د تنور په مخه منحصره وه چې څو زنانه پکنبې راڅائيږي. د پښتنو په هره سيمه کنبې چې چرته هم په غم ښادۍ کنبې زنانه رايوځائے شي نو يو شور ئې جوړکړے وي او په زنانوؤ د نارينوؤ د پېرو پېرو نه الزام دا دے چې سل نارينه په غم ښادۍ کنبې عذر شي خو څوک پرې پوهه نۀ شي خو چرته چې پنځۀ زنانه هم را يو ځائے شي هغه ځائے په سر واخلي. د دغې قسم ښځو نمائنده ښځې به دلته هم ناستې وي. خو نۀ به ئې چڼ کوۀ نۀ چوڼ، د هر ځائے او هر حالت خپل کلچر وي، د تنور مالک به هم دوي ته نۀ وئيل چې تاسو دلته مۀ راځئ، ځکه چې دا به هم هغۀ د خريدارانو په شمېر کنبې اچولې.

پایو خان یوه هفته په نن او سبا کښې واړوله خو چې زرغونه ئې ونۀ لیده نو د چا نه ئې تپوس وکړو، چا ورته وې چې دا لوئے ښار دے دلته په سوونو تنورونه دي او اوس هر ماښام د هر تنور خوا ته دغسې زنانه ناستې وي، پایو خان په ډېرو تنورونو وګرځېدو خو د زرغونې اته پته ئې معلومه نۀ کړه، دوه هفتې پس هغۀ زرغونه بیا په هم هغه تنور ولیده، هغې مخې ته جام اېښےؤ او په غېږ کښې ورسره یو ماشوم ؤ. پایو خان د هغې په خوا کښې یوې بلې سوالګرې ته د یوې بلې سوالګرې په لاس شل روپۍ ورکړې وې او یو ترکیب ئې ورته ښودلےؤ.

نن حاجي پایو خان پوره وخت ځکه حصار نۀ شو چې په زړۀ کښې ئې دا غل ناستؤ چې هسې نه بل څوک رانه په خبرات کښې مخکښې شي، نو رانزدې شو او د خپل ډرائیور په لاس ئې ډوډۍ ورکول شروع کړۀ. ډرائیور به خپل مالک ته موقعه ورکوله چې د هرې ښځې د مخ او سترګو پوره پوره جاج واخلي چې کله د ډوډو ورکولو لاس زرغونې ته ورسېدو نو یوې ښځې د هغې د مخ نه لوپټه پورته کړه، هغې د ښځې په ځائے پایو خان ته وکتل او بیا ئې پوره پلؤ د مخ نه پورته کړو او حاجي پایو خان ته مخاطبه شوه، تۀ زما د مخ نه پلؤ پورته کولے شې، ځکه چې تۀ یو مالدار سړے ئې، خو نن زۀ هم ستا د مخ نه لرې غوندې پلؤ پورته کوم. دا اګر چې نۀ د جرګې میدان دے او نۀ د عدالت د فېصلې کوټه ده، البته.....البته د لوئے خدائے د قدرت او امتحان د تماشې یو منظر دے، زرغونې خپل مړ بچے د پټون نه ښګل ته کړو، هغه په اصل کښې مړ ؤ، زرغونې هغۀ ته اشاره وکړه، دا د شهید پلار بچے دے، شاید چې نور ستاسو غوندې خلقو د خېرات په ټکړو ونۀ پائیدو. ما ځکه د ځان سره راوړو چې یو ورور او یوه خور ئې نور پاتې وو، زۀ مور وم، خپله ژړا مې په زړۀ کښې ټینګه وساتله خو دنیا او د دنیا خلقو زۀ په دې حال کښې هم پټ مخ برداشت نۀ کړم. پایو خان زېړ زبېښلے، وازې سترګې په خپله کرسۍ کښې پاتې شو، شاید چې هغه د نورو څۀ وئیلو جوګه هم نۀ ؤ او دومره څۀ ورسره پاتې هم نۀ وو چې د زرغونې د خیال سودا ئې پرې کړې وے، د تنور مالک را مخکښې شو او ورته ئې ووې چې خور زۀ به درسره د دۀ د کفن دفن دپاره لاړ شم خو زرغونې ورته ووې، مونږ هر چاته ورور ووې خو مونږ ته هیچا د خور په نظر ونۀ کاتۀ،زۀ اوس ښځه نۀ یم، دا کار به زۀ په خپله او په یواځې ځان کوم، دا د شهید بچے دے، د دۀ جامې د دۀ کفن دے او د دې خاورې ډېره لویه سینه ده. دغسې پکښې ډېر خلق ځائېدے شي.

حاجي صاحب پایو خان زړۀ ټینګ کړو، د موټر او پېسو پېشکش ئې هم ورته وکړو، خو هغې سره د هغۀ د ډوډۍ دغه هر پېشکش نامنظور کړو او په ژړا ژړا کښې ئې ووې. په دۀ ما د پلار د قاتل د لاس رزق خوړلےؤ او شاید هغه ئې برداشت نۀ کړے شو، زما بچي زما مجبورۍ ته نوے رنګ ورکړو او زما سترګې ئې خدائے طرف ته راواړولې،اوس د پایو خان په رنګ یو بل زېړ رنګ ختلےؤ، په دغه زېړ رنګ کښې هغۀ د خپل ځان دننه هغه بل سړے پېژندلےؤ، ان چې د موټر خوا ته د هغې دوېم سړي په شکل کښې ورسېدو په خپل موټر کښې د ناستې باوجود ورته په ځان کښې هغه دوېم سړے ښکارېدو.